سناجاتونه

Ketabton.com

ويناوال:حاجي نوراحمد (قرانمل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې کتاب دچاپ حق له ويناوال سره خوندي دی

دکتاب ځانګړني

- دکتاب نوم :: مناجاتونه
- شاعري او کمپوز ::حاجي نوراحمد ((قرانمل))
- خپرندوی ::اروابناد غريبک اسلامي فرهنګي خپرندويه ټولنه
- دچاپ کال :: ۱۳۸۹ لمريز کال دکب مياشت
- دخپرندوی اړيکه :: ۰۰۹۳۷۰۰۳۲۲۰۷۱
- دليکوال انټرنيټ پته ::noorahmad_kakar@yahoo.com
- انلاين چاري :: مختاراحمد احسان www.Larawbar.com

اهدا

دبناد روان ابوالفيض مولوي

عبدالغفار بريالي

روح ته !

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

ښاغلی الحاج نوراحمد((قرانمل)) دکندهار دځوانو شاعرانو ،لیکوالانو اوښېړونکو څخه دی چي زیاتي لیکني اوښېړني یې کړیدي چي لمړۍ شعري ټولګه اوځیني نور اثار یې چاپ سویدي اوځیني یې ناچاپه پاته دي

پاک خدای(ج) دي توان ورکړي چي دغي مېړنۍ دغورځنګو ،قیامونواونهضتونوپښتو ژبي ته زیات کاراوخدمت وکړي اودغه دحماسوژبه راژوندۍ کړي اوپه ګډه یې ددنیادپرمختللو ژبوپه قطارکښي ودرؤاوپرېنږدوچي زموږ ژبي دادب اوفرهنګ دښمنان دي زموږدادبي اوفرهنګي بهيردپيشرفت انکشاف اوپرمختګ مخه ونيسي موږدپښتني ټولني دهرپښتون څېړونکي ،شاعر ،ليکوال اواديب دا ايماني اووجداني دنده ده چي دخپلي مورنۍ ژبي دبقااوپرمختګ لپاره لستوني راونغاړي تحقيق ،څېړنه ، ژباړي اوپخپل مورنۍ ژبه علمي ،ادبي ،تاريخي اواساسي اثاروليکي اوکلتوراوفرهنګ په غني کړي خوالحمد الله اوس په پښتني ځوانانوکښي داحس پيدا سويدی چي دخپل فرهنګ ثقافت اوادب دبهبوداوپرمختګ دپاره يې شپه اوورځ پرځان يوه کړېده چي يو ددغوځوانو ليکوالو څخه الحاج نوراحمد قرانمل دی چي دخپلي مورنۍ ژبي [پښتو]په چوپړپسي يې پښې لځي کړيدي ليکني اوڅېړني کوي.الحاج قرانمل دمناجاتو يوه شعري ټولګه نوې ليکلې ده ،اوخوورځي مخکي يې ماته راوړه چي يو څه پروليکم ده(قرانمل)پخپله شعري ټولګه کي داسي نوښت اونوي ترکيبونه راوړي وه چي ما په نورو شعري ټولګو کي نه وه ليدلي ، چي ټولو شعرونو اونظمونو يې مناجاتي رنګ او خوند درلود تخيل يې‌چلي تشبيهات اواستعارونه پکښي ليدل کيږي دشعر ژبه يې ساده اوروانه ده اوپه ټولو شعرونو اونظمونو کښي يې دمردفي قافيې څخه کاراخيستی دی اوپه ټولو بيتو کښي يود ((را)) رديف کارولی دی بل نوښت چي ماد ځوان شاعر الحاج (قرانمل) په شعرونو کښي وليدی هغه دقافيې موضوع وه ،دده ابتکار داؤچي ده په شعري ټولګه کښي قافيه دالفبا په ترتيب يعني دالف څخه بيا تر (يا) پوري په ترتيب راوړېده .مثلاً

خدايه کړه مي په عمل کي دناسوت را

رشتنوالی پرزړګي دملکوت را

چي اروا ه مي ستا دښکلو ميلمنه وي

نازنوازپه وزرو دجبـــــــــــــــــــروت را

په پورته بيتوکښي دقافيې کليمې دادي((ناسوت ،ملکوت اوجبروت)) ((را))چي دقافيوترکليمو وروسته راغلي دی رديف بلل کيږي او دغي قافيې ته مردفه قافيه ويل کيږي .

دځوان شاعر ،ليکوال اوڅېړونکي حاجی((قرانمل))په اشعارواونظمونوکښي ادبي صنعتونه دورايه څرګنديږي مثلاً

(c) ketabton.com: The Digital Library

دموسی دعصا غوندې چې لاربنود وي

دایوب استـــــــقامت په اهتزاز را

زه خلیل چې دخلیل دلارخلیل ســـــم

دخلیل غوندې په اورکـــــــــې سرفراز را

په پورتنیو بیتو کښې شاعردتلمیح ادبي صنعت راوړی دی یعني دحضرت موسی (ع) اونمرودو قصې ته یې اشاره کړېده یادابیت چې وایې:

ستادربارکې مې سرشخ په رکوع څوړ را

په نصیب کې دسلفو مې روغـــــــبړ را

په پورته بیتو کې طباق یاتضادراغلی دی چې دشخ او څوړ کلیمو ترمنځ تضاد یا طباق راغلی دی. قرانمل په څینو بیتو کښې نامانوس کلیمات راوړي دي امکان دي ولري چې الحاج قرانمل داکار دقافیې دضرورت په اساس کړي وي نورنو زه خپله لیکنه پرداغه ځای رانغاړم لمړی ښاغلي الحاج نوراحمد (قرانمل) ته ددغې نوي شعري ټولګي مبارکي وایم اوپر قلم دې برکت وي.

په درنښت

لسانس ښوونکی حاجي فضل محمد ((پنهان))

کندهار خلرمه ناحیه ده خواجه

۱۳۸۹\۱۲\۳۱ل م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۸۲

دټول بشریت پلار حضرت ادم(ع) چي له اسمانه مځکي ته راکښته سونوئې دسترښتن دربارته دامناجات ووایه ربنا ظلمنا انفسنا وان لم تغفرلنا وترحمنا لنکونن من الخسرین ط

ترجمه: اي زما پروردګاره !

((موږ پخپلو نفسونو ظلم کړیدی که چیري ته وموږته بخښنه ونه کړې اوپرموږ رحم ونه وکړې موږ به خامخا له زیان کاروڅخه سو))

حضرت ذکریا (ع) خپل رب ته ویل:

رب لاتذرني فرداً وانت خیر الوارثین ط

اي پروردګاره!

((ما مه پریږده یوازي ځکه چي ته ئې ښه وارث او وارث جوړونکی))

حضرت یونس(ع) دماهي په نس کي داسي ویل:

لااله الا انت سبحنک اني کنت من الظلمین ط

((نسته دعبادت وړ پرته له تا څخه پاکي ده تالره او زه یم له هغو کسانو څخه چي پر خپل ځان ئې ظلم کړیدی))

ټولو پیغمبرانو دخپل ښتن څخه دمناجات په ویلو اودحاجت په غوښتلو خپله بندګي ښکاره کړېده دقرانکریم لمړۍ سورة سورة فاتحه اودهمدې لمړی ایت (الحمد الله رب العلمین) دی

ترجمه:

((ټوله ثنا وصفت دټول عالم وروزونکي لره دی))

دستر او سپېڅلي ښتن بلیغ اومعجز کلام هم دستر ښتن په مناجات اوستاینه پیلېږي.همدا راز دپښتنو نیکه بیټ نیکه چي دیوې وني لاندي به ناستۀ اوخپل لاسونه به ئې خپل ښتن ته په زاریو لپه کړیوه دامناجات به ئې وایه:

((لویه خدایه لویه خدایه

ستا په مینه په هر ځایه

دلته دي دغرو لمني

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ کړدې دي پکښې پلني

داوګړي ډير کړي خدايه

لويه خدايه لويه خدايه))

دپښتنو دکلاسکي اومنځنۍ دورې شاعرانو خپل دشعر ديوانونه دلوی څښتن په مناجات راپيل کړي دي چې دځينو شاعرانو شعرونه ئې دبېلګو په ډول رااخلو.

حضرت عبدالرحمن بابا

لويه خدايه رحيم ته ئې رحمن ته ئې

مهربان ترمورو پلار پر جهان ته ئې

مه مي باسه نااميده له درباره

ولې داچې ګدا زه او سلطان ته ئې

عبدالحميد مومند

الهی دمحبت سوزوګدازرا

په دا اورکې دسهي سمندرسازرا

تن پرور بلبل دي عيش کاندي په ګلو

پروانه لره پروارزما پروازرا

احمد شاه بابا

اوس زه ستاکوم ثنا

اي فريادرس شاها

لاس پرسردرته ولاړيم

يارله ما مه کړې جدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیرمحمد کاکړ

الهي توحید دحمدو دثنا را

په ثنا کښي تر بلبل ژبه ګویا را

منور مي زړه په نور د مغفرت کړه

په تاریکه توره خونه کي رڼا را

شمس الدین کاکړ

ربه ستا په حمد ګویا لري زبان زما

ښایسته کړي په ثنا صفت بیان زما

په تحمید مي آئینه د زړه صیقل کړه

ګوندي مخ پکښي ځرګند سي دجانان زما

میرزا حنان بارګزي

الهي دمحبت په اور کي توان را

سمندر رنګه دپتي خولي بیان را

کل سختئ مي له زړه وباسې قادره

لکه زلفي دخوبانو زړه پریشان را

مولانا عبدالغفار بریالی

باري خوله مي کړې ګویا په مناجات رانازل کړې ستا دفضل برکات

دځګرداغ مي ډېوه دلمرپشان کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي په وو ینمه ارض و سماوات

ځوان شاعر او لیکوال نوراحمد ((قرانمل)) خپله همدا شعري ټولګه هم له پیله تر پایه په بیلا بیلو قافیو ښکلو ترکیبو دستر او خلاق څښتن (ج) چي د منا جاتو او عباداتو لایق دی په مناجات ترتیب کړېده قرانمل د نوو الفاظو په اوډون او د نوو کلیماتو په کارولو ځانته د شعر بېله لار اخیستې لکه وایي چي:

قرانمل په بندګي درته سر خم یم

پاکه مینه پاکه مېنه ایمان روڼ را

په پورته بیت کي د ادبي فنونو په اساس ناقص تجنیس کارول سوی چي مېنه د او سېدلو ځاي دی او مینه په معنوي لحاظ د بندګي او عبادت لپاره د سر خمېدل دي چي یوازي او یوازي د برحق معبود لپاره دي د مناجات یو ښکلی مفهوم افاده کوي او ددي سره سره د پاکي میني ذکر چي د خداي د رسول (ص) او د مصلحو بندګانو مینه ده چي د خدای ج رضائې مطلب دی او د پاکي مېني یادونه ده چي په دنیا کي د عبادت او بندګي ځاي په اخرت کي جنتونه دي چي د مؤمنانو غوښتنه ده او ددې په څنګ کي د روڼ ایمان غوښتنه چي د صادقانو مخلصانو او سپېڅلو مومنانو ایمان دی.

بل ځاي وایي:

چي جواب (لتسئَلُنْ) لره بشر کړم

ذکاوت توفیق په غیرکي د شکران را

په پورته بیت کښي قرانمل د (الهاکم تکاثر) ایت ته په خپل بیت کي اشاره کړېده له خدایه د خداي د نعمتونو د شکر او توفیق غوښتونکی دی څو د لتسئلن په ورځ ئې د خپلي بندګی حق اداکړی وي او د خداي د نعمتونو کفران ئې نه وي کړي. د قرانمل د مناجاتو همدا ټولګه د پېښتو شعري ټولګو په لړکي د بندګی د اوصافو په زېور ښکلي او له نوښته ډکه ټولګه ده چي په ویلو ئې ماته د ستر صوفي او عارف مولانا خواجه عبدالله انصار وُرِسُ سِرَهُ ملفوظات او مناجات را په زړه سي او د هغه د عرفان مناظر نظر ته راسي رشتیا هم د قرانمل همدا مناجاتونه هغه بندګي غوښتني او سوالونه دي چي د بنده او الله تر منځ درا زو نیا ز اړیکه ټینګه وي او د بنده د شیطاني غرور او تکبر کرغیړني لکې د انسان له زړه نه د نفس په او بو پرېولی. نورنو تاسو او د قرانمل مناجاتونه په دې هیله چي ژوند تر پایه د بخښونکي او مهربان څښتن و دربار ته د خپلي بند ګی اظهار په خضوع او خشوع وکړي او د همدا سي مناجاتو په ویلو او غوښتلو د دواړو دارینو سعادت او شرافت ترلاسه کړي.

په اسلامي او افغاني مینه

روح الله ساقیار (عرفان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم ط

درنو لوستونکو !

سلامونه درته وړاندي کوم امید دی چي ددې ټولګي په لوستنه سره مي له دعا هېر نکړی

دڅو کلونو را پدې خوا مي له شعر سره خدای پاماني کړېده

ولي دا ټولګه چي مي دوه درې کلونه مخکي سره ترتیب کړېوه دفرصت څخه په ګټه پورته کېدنه مي ترتاسو درنو درور سوله کېدای سي ما هغه شاعرانه انځوګري او تخیل په کښې نوي کار ولی کوم چي دشعر په ساحرانه ژبه کي اړتیا ورته لیده کېږي ولي پر دې بنست چي دیوه ستر مفهوم اساسات پکښې ترسترګو کېږي تاسو درنو ته یې وړاندي کوم

سره تر دې چي ماته یې په ټولګۍ کي کوم رسمي درس نه دی را کړي ولي ددرنو لیکوالانو ښاغلي لسانس ښوونکي حاجي فضل محمد ((پنهان))او ښاغلي روح الله((ساقیار)) چي اوس عرفان تخلص کوي نړۍ نړۍ مننه کوم چي دا کتابګوټی یې پخپلو نازنینو لیکنو باندي ونازاوه

ستاسو درنو دعا په هیله

په مینه

حاجي نوراحمد قران مل

دافغان یو نایټډ اداري ښوونیز مرکزمسئول

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مناجاتو پېل

خدایــــه ســـــترګو اوعمـــــل تـــــه مـــــي حیـــــا را
محبـــــت پـــــر لـــــه پســـــې دي پـــــه رشـــــتیا را

چـــي مـــد هـــوش پـــه یارانـــه ســـتا کـــي بـــې هـــوش یـــم
داســـي هـــوش مـــي پـــه وجـــود کـــي هویـــدا را

پـــه رنـــدۍ بـــه دمنصـــور غونـــدي درجـــار ســـم
زمـــا پـــه برخـــه دقاضـــي رســـا فتـــوا را

جـــام دجـــم کـــه مـــي دبرخـــي طـــالع اوســـي
ســـتا بـــې مینـــي یـــې مســـتي ماتـــه بـــې خـــوا را

پـــروت قـــران مـــي پـــه ســـینه کـــي ستامشـــهوددي
قرانمـــــل تـــــه دجانـــــان دلار رڼـــــا را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدايـــــه ! ســـــتا وملاقـــــات لـــــره ســـــبب را
دا ســـبب کـــي خـــوار زړګـــئ مـــي مظطـــرب را

چـــي ســـم محـــوه ســـتا دمينـــي پـــه جلـــوه کـــي
دې جلـــوې تـــه مـــي دمينـــي خـــوږ شـــبب را

دهـــــوس خمـــــارمي وباســـــې لـــــه تنـــــه
پـــه عـــوض يـــې دتقـــواي خـــوا ږه عينـــب را

شـــور دمينـــي چـــي مســـتيږي پـــه ســـينه کـــي
دا ســـي مينـــه زمـــا پـــه برخـــه دادب را

چـــي حســـاب يـــې پـــه دربـــار دغلامـــۍ ســـم
قرانمـــــل تـــــه افتخـــــار ددې منصـــــب را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه !ژوند مي دعاشقو په صفات را
برائت دي پر میدان دعرصات را

داده ژوند شیبه له ژوند هیهات ځي
فهمیدن یې زما دزړه پر عرفات را

چې ترې پورته څۀ توښه داخرت کړم
را په برخه دجانان دلارنعمات را

ځالګۍ دخرابات دي نه رنګیږي
دې جونګړه کې ملنګ غوندي حیات را

زړه مې بند دي ستا دعشق په خاطرو کې
قرانمل ته دیارۍ رنګین صفات را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! کړه مي په عمل کي دناسوت را
رېښتینوالي پر زړګي دملکوت را

چي ارواح مي ستادښکلو مېلمنه وي
نازنواز په وزرو دجبروت را

شکسته نفس مي له طغنه په امان کړې
قبلېدل مي ستا په در کي دهاهوت را

چي یو ځواک سم وساتني دبشر ته
په دریاب کي حوصله دیوه حوت را

قرانمل دي سر در وړ وړي بندګۍ کي
ښه نجات دشیطانۍ له عنکبوت را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! ستا خوښۍ ته سترګي په رنګټ را
چې ژړا یې نه دربېږي اسرار پټ را

دایمان د توازن په درلو دوکي
دبري راز مې پر فکر او پر مټ را

خوف رجا مې د مذهب دلار عصا ده
په طاقت کې نور طاقت مې لټ پر لټ را

دامت مسلمه چو پړ لپاره
همرا هان مې همرازان مې سټ پر سټ را

چې مفهوم د سړیتوب انسانان درک کړي
قرانمل لره یې پلان دجوړي کړټ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! ستا داولیاؤ دین میراث را
ټینګ ایمان وو عقیده آئین میراث را

دمحراب دخانقا مي استوګن کړې
سُرخ رویي په اخرت جبین میراث را

دملنګ په ګدړۍ په ژوند قانع یم
دحساب کتاب دفتر مبین میراث را

چي خیرات دي بندګي کي په هر وخت سم
دغازیانو په ټولۍ متین میراث را

چي پیوست دقران مخ ومخته لولم
قرانمل یم لوست قران رنګین میراث را

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه خدایه !دمین غوندي رواج را
دشیطان توطیه مخ لره تاراج را

زما دمیني دقالب زړګي خالي دي
په کوګل کي مي دمیني روڼ سراج را

په عالم کي دناسوت چي دي پیدا کړم
شرافت بل ملکوت پشاني تاج را

چي ړندې سي واړي سترګي دخبلیسو
داسي توان ، دا سي ایمان داسي امواج را

سرمي ایښي ستا دخوښي نذرانې ته
قرانمل ته یاد د وصل په سماج را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه !لاره مې تاریکه روڼ صباح را
له هوا او له هوس پاکه ارواح را

خیرات خور دي د جانان د شفاعت سم
دا صفت مې د زړګي په اصطلاح را

نور دي پاته وي پدې نا بود جهان کې
ما حقیر ته په خلاصون کې زړه ملاح را

توره تبه په خسیس غماز اخته کړه
ترې نجات ستا په کرم دیو سیاح را

راز د مینې دي ساتلي وي ترمنځه
قرانمل ته خوار د عجز یو فلاح را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! زما دښمن پر درد او پر وخواخ را
حوصله ، استقامت تندی پراخ را

چې زبېر غوندي دميني مدرسه سم
دغمازو ورېتېدو ته مې طباخ را

بشارت مې کړې دعقل خانقاه ته
په تميز کې توپيرونه په اِلاخ را

دُرګوهر چې دجانان ښو ته انبار کړم
توان طاقت په جوړېدو دداسې کاخ را

دزړګي قاموس مې ډک په اياتو کړې
وزړګي دقرانمل ته سرى سُراخ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! زړه مې له فضوله څخه وچ را
چې رضا دې وي پکښې هغه لالچ را

زه عاجزه به هیڅکله ځان خلاص نکړم
ستا په فضل له ګناهو عمل بچ را

خوږ مومن مې کړه په کار د مومنانو
بې ایمانو ته تونده خوی پشان د مرچ را

پر حقه د بل مې لاس بری مکړه
چې مې بل خوري توان طاقت مې د خپل غچ را

بند پر بند مې ستا د در په خاکروب ناز که
قرانمل زړه ته باور د مینې وچ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه خدایه ! سپئ رقیب په فریبو پڅ را
په رنګټ او په زاریو یې هر ترڅ را

چې ایمان ، وجدان ، او زړه ترې په امان وي
د ټګۍ ټوله دامونه لڅ پر لڅ را

زما هم ستا بېله رحمته بل څه نسته
د رحمت لړۍ په کور کي او پر کڅ را

سر دي پروت وي ستا د رحم ولیکني ته
د رحمت باران په ژوند باندي په څڅ را

چې آئینې د دواړو سترګو مې رڼې کا
قرانمل ته د رڼا دلاري ترڅ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویـــــه خدایـــــه !زړه روښـــــانه شــــپه او ورځ را
خولـــــه ګویانــــه پــــه ســــتاینه شــــپه او ورځ را

چــــي را تولــــه کــــړم پــــر جــــونګړه څــــو بــــې پــــلاره
دا ســــي تــــوان پــــه ژوندانــــه کــــي شــــپه او ورځ را

چــــي پــــه صــــدرالمنتهي کــــي يــــې بورجــــلۍ
دهغــــــه ښــــکلي ګاونــــــده شــــــپه او ورځ را

ځــــان بــــه شــــمار کــــړم دجهــــان لــــه نــــازولو
دجانــــــان دپيــــــروي کــــــړه شــــــپه او ورځ را

قرانمــــــــل دقرانــــــــه دلاري ملــــــــه تــــــــه
ځراکــــــت او نازيــــــده پــــــه شــــــپه او ورځ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایـــه !تـــا تـــه بنـــدګي کـــي قمـــر بنـــد را
وفـــادار غونـــدي پـــه لار کـــي دي ســـو ګنـــد را

چـــي دا پـــاک زړه مـــي لـــه غیـــره پـــه امـــان وي
دجانـــان پـــه پاکـــه مینـــه زړګـــی بنـــد را

پیـــروي مـــي یـــې پـــه برخـــه درفـــا کـــړې
پـــه ایثـــار کـــي مـــي دردونـــه پـــه ســـمند را

چـــي بـــې شـــانه والا شـــان وجـــود دي هســـت دی
ســـتا لـــه فضـــله لـــه رحمتـــه ځـــه درمنـــد را

پـــه دریـــاب دقرانـــه مـــي زړه غوټـــه کـــړه
قرانمـــل تـــه دغفـــران دکـــور کمنـــد را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ستا په بندګي کې مي کلک هوډ را
په تول دصلحاؤ چابک هوډ را

دبې دردو ، دبې دردو کړو لپاره
وسیله نرمه دکړنې ځیرک هوډ را

چې خنثي یې کړمه صرف ستا ورضاته
دا سي توان مې دا سي کړوته هک پک هوډ را

زمرود دي دجانان دلاري کړني
رسېدو تې ددریاب دسمک هوډ را

قرانمل به سر شاره بندګي کې
لار پر لاره دلتون دمدرک هوډ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکـــــه خدایــــــه ! دخلاصـــــــون دلار ســــــفر را
دمـــــــردودو وړانـــــــدي زړه کـــــي مـــــي شـــــرر را

چـــــي ســـــاحل دبنـــــدګۍ دي طـــــۍ کومـــــه
دې تګلـــــوري تـــــه رښـــــتونی دزړه ســـــر را

زمـــــا دزړه ددایـــــرې وانحنـــــا تـــــه
پـــــاک هـــــدف دپـــــاک مســـــیر پـــــه پـــــاک وزر را

دمـــــادې جهـــــان دي لیـــــري وي لـــــه کـــــوره
دمعنـــــي غونـــــدي کچکـــــول کـــــي مـــــي زېـــــور را

زړه کچکـــــول دلاس پـــــه لپـــــه التجـــــامي
قرانمـــــل یـــــم ســـــتا پـــــه وړانـــــدي مـــــي خـــــم ســـــر را

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا دربار کې مې شخ سر په رکوع ځوړ را
په نصيب کې د سلفو مې روغ بر را

چې سجده مې ملکوت غوندي ادا کړم
سُترګي د زړه مې خدايه پر انګر را

خزانې به دي خالي نسي له فيضه
ما عاجز ته رحمتونه لړ پر لړ را

چې دي نه منې ،منل يې زړه کې ور کړه
نافرمانو ته لاربسود وړ د چوپړ را

چې جانان مې شفاعت په ډاډ درخواست کړي
قرانمل له ره عمل د داسې کړ را

پاکه خدايه ! په توفيق د ښو پرواز را
دې پرواز کې ښه ملګري مې همراز را

(c) ketabton.com: The Digital Library

د برزخ او د دوږخ له اور مې خلاص کړې
ستا خوښې رضايت کې خوږ اغاز را

د موسى د عصا غوندې چې لانبود وي
دا يوب استقامت په اهتزاز را

زه خليل چې د خليل دلار خليل سم
د خليل غوندې په اور کې سرفراز را

د معراج ديار د روې په شفاعت کې
قرانمل ته پاک قران د زړه دمساز را

(c) ketabton.com: The Digital Library

لويـــــــه خدايـــــــه !تـــــوان پـــــه در كــــــي ددر وړ را
چــــي معمـــــور يــــې پــــه طـــواف ســـم ســـفر ســـړ را

دبــــــلال پشــــــان احــــــد ــــــــ احـــــد پــــــر ژبــــه
چـــــي خوبنــــــي دي وي پكبنـــــې هماغــــــه خـــــوړ را

خاموشــــــــــي مـــــــي دحيــــــا دلار خاصـــــــه كــــــړې
دبنـــــــمنان دســـــــــفره پــــــــــه شـــــــــــور او بروړرا

تـــــوان مـــــې مــــل كـــړې چـــي قربــــان دي لــــه نامـــه ســـم
وربتيـــــــدو كـــــــــي دســـــــتړيـــــــا دوام ډيـــــــر لــــــــړ را

ســـــــر دې پــــــــروت وي دجانـــــــان پـــــــه نذرانـــــــه كــــــي
قرانمـــــــــل تـــــــه حـــــــق نـــــــدا ، نـــــــدا دغـــــــــــوړ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! ستا ورضایت ته زیات سپاس را
په ازمون د بندګۍ کې مې سر پاس را

چې توانګر سم په خدمت ستا د مخلوق کې
رانه لیري د خناس د ترس وسواس را

سترګي کښته په حیا ستا په شکران کې
د غفران زیري له ورایه ثخه پاس را

قند نبات چې د پې مخو زړه مجاز وړي
دې دنیا کې له همغو نه ایاس را

پل پر پل مې د جانان د قدمو کړې
قرانمل ته د ایمان دلار اساس را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ستا په بندګي کي مي زړه سراښ را
دشیطان وه وسواسو له ره نکراښ را

چي توانمند سمه ددین په لارو چارو
داسي هوډ داسي ایمان داسي تلاښ را

راځه سرچي پورته نکړي ناروا ته
رقیبانو ته په زغم کي داسي ګواښ را

دوعتصمو پر حبل مي لاس برکړې
ستاددین دپیروانو دلاس واښ را

سردروړدوي په لاره دجانان کي
قرانمل یم په خولګۍ دشکران غاښ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

لويه خدايه په مغزو کي ژوندئ هوش را
شاهدان په رښتينواله کي سروش را

چي مطرح سم په تولۍ دعاشقانو
داسي درد داسي لذت مي هوش پرهوش را

دکوثر پر خنده سر ورته کچکول کړم
دا سي رنګ داسي صهبا مي نوش پرنوش را

ژوند په لپه دزمان مي در سوغات دي
په سُرور کي يې را ژونده دمئ نوش را

نذرانه دټټر غوښي په لحد کي
په تعويض يې قرانمل ته ويښ خروش را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه !خوی کي دمومن پرمخ اخلاص را
ددوږخ له اور تونو مي تن خلاص را

چي په روي يې ستا په درکي مقبول اوسم
بس رفیق په اخرت ابن وقاص را

په رتبه کي د سلفو دمریدو
ماعاجزه ته یو ښکلي مکان خاص را

چي يې زړونه ستا په نوروي پریوله سوي
داسي خلک داسي ژمن ښایسته اشخاص را

سرمي خم ستا وخدايي لره پاک خدایه
قرانمل یم په شکران مي زړه رصاص را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! زړه کي دایمان ښایسته بیاض را
وعالم ته دفایدې عمل فیاض را

دا شخ سر مي بیله تا بل ته ټیټ مکړې
بندګی کي یو هوډ من تکړه فراض را

چي دریاب دبندګۍ کي ستړي نسم
داسي تن داسي وجود مي دحواض را

په رنګینو تجلو دطریقت کښي
سرخمي مي وظیفه کي دریاض را

چي تو پیر دښو او بدو په کواي سو
قرانمل ته دتمیز داسي مقراض را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! ستاد دین په چارو کي احتیاط را
په تعمیل کي دارکانو زړه محطاط را

کلمه مي د وحدت پر خوله جاري کړه
صادق زړه د ساه ختلو پر رباط را

یم روان زه بې توښې د مرګ وخولې ته
ستا پر فضل پر کرم باندي میقاط را

خوار رنځور زړه ته درمل د غفران غوارم
دجانان په پل یوني کي مي صراط را

چي شاهد مي په اخرا کي ستا کلام سي
ما عاجز ته برائت له دېر افراط را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه !حق دین مي مدام محفوظ را
د دین چارو کي تعمیل دوام محفوظ را

ستا د دین پر صراط پل مي پورته کړی
وعاجزه ته مقصد مرام محفوظ را

نه دولت او نه متاع لرمه خوښه
له عذابه مي وجود مقام محفوظ را

مسافر د بل ولات سبا پر تلو یم
د قران په ملګري مي کام محفوظ را

بېله اوښکو څه تحفه تا ته سوغات کړم ؟
قرانمل ته د مطلوب صیام محفوظ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایـــــه ســــــتا په ارشــــاداتو مــــــي ســــــماع را
ســــــتا د دیــــــن پــــــه اموراتــــــو مــــــي اطـــــلاع را

را پــــــه برخــــــه کـــــړې بریــــــاوي د نېکیــــــو
لــــــه انـــــوارو مـــــــي ایمــــــان لـــــره شـــــعاع را

چـــي ســـر کښـــېږدم ســـتا د دیـــن پـــه چـــوپړه کـــي
لــــــه بـــــد لارو هـــــــم نشـــــــینو مـــــــي وداع را

پـــــه مطـــــاف کـــــي د کعبـــــې مـــــي پښـــــېږ تنهـــاکي
پـــــه قســــــمت کـــــــي دلېــــــدلو یــــــې متـــــاع را

د کچکـــــــــــول پشـــــــــــاني لپـــــــــه در واري ده
قرانمـــــــل تـــــــه دجنـــــــت دکښـــــــت زراع را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! فکر ته مې هر کله نبوغ را
په نبوغ کې تر هدف پورې بلوغ را

چې مې ژبه په رښتیا ویو ګویا وي
الامان نجات په هر وخت له دروغ را

په چوپړ کې د سلفو چې ستو مان سم
له بد لارو او بد مرغو مې فروغ را

چې وجود مې وقایه له بېرنګۍ سي
ستا په لاره کې د حق دلار دبوغ[1] را

د قران یاري مې تا لره رسد کړي
له مکار شیطانه هر وختې شلوغ را

دبوغ : په عربي رنګولو ته وایي [1]1

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه خدایه ! ژوند مي ستا خوښي کي لف را
دايمان د روښنايي ډېوه پر کف را

چي رټلي وي مدام مي له وجوده
اماره نفس مي مایوسه په غف را

تحرک یې د شیطان ځیني نفي کړه
د شیطان پلان په وړاندي زما اضعف را

په څه ډول چي انسان ته دي ته اکلي
ما عاجز ته په هغه شاني شرف را

د طه او د یس په رفاقت کښي
قرانمل ته د یارانو تنظیم صف را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! زغم او حوصله مي دصدیق را
بې چو پان رمې ته مشر یو طارق را

چي ټارګیټ• دلار روان پر بله خوا کړم
دملعون له لاري بله خوا طریق را

چي راټول دا خوار مومن او لس بل ځل سي
پر داغه سي کړنو ماله توفیق را

چي محروم دي ستا درحم له کرمه
شرمېدلي سپېځ غما زلکه زندیق را

دقران دبرکت په استانه کي
قرانمل ته دتسلیم نبایسته تشویق را

---

target ټارګیټ دانګیسي ژبي لغت دی چي په پښتو یې دیوه نفر ځانګړي هدف ته ویل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لويه خدايه !د ربښتون د لار ادراک را
پر شيطان د غلبې مې زبر ځواک را

چې سينه مې په ذکرونو ستا تووده وي
داسي توان د شکرانې د کړني واک را

د جليل په روي جليل ربه غفران کړه
ستا د دين پر دښمن هر وختي تاړاک را

چې د ستونزو منځ کې ژوند په حوصيله کړم
د درياب په تل کې ژوند مې د سماک را

چې په مغز کې مې ټاکلی ځاي اشغال کا
قران مل ته د قران نصوص ښه پاک را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! بل یو مبتکر سید جمال• را
دمسلم امت یو والی پر او بال را

دمحمد پشان چي زغم لري په زړه کي
وحجاج ته دزمان مو دا سي سیال را

دموسي او دطارق په سرلاری کي
عتبه غوندي اسلام لره جنرال را

چي تحلیل او تجزیه منصفانه کړي
دمعني ، مادي تر منځ مو پوتنسیال را
دډاکټر عبدالغفار په استعداد کي
قرانمل ته دساینسي جهان کمال را

• په پورته شعرکي یادسوي نومونه عبارت دي له سید جمالدین افغان ،محمد ابن قاسم ،حجاج ابن یوسف ،موسي ابن نصیر ،طارق ابن زیاد ،عتبه ابن مسلم ،ډاکټر عبدالغفار کاکړ ؛ پوتنسیال: دفزیک دقانون هغه ظرفیت چي برقي تفاوت ثابتوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایـــــــه !خوی،عـــــادت ، کــــــردار نــــــرم صـــــمیم را
بـــــــې ســــــالاره قــــــافلې تــــــه پــــــوه زعـــــیم را

چـــــي داخـــــواراو لـــــس را تـــــول پریوکهـــــول ســــي
یــــو تــــاتوبي مـــــو ازاد ، ابــــاد ، تـــــر مـــــیم را

چـــــي یوځـــــوک مــــوبې موجوبـــــه اورکـــــي ســـــوځي
دي دښـــــمن تـــــه دخواریـــــــو مـــــــو جهـــــیم را

چـــــــي ســــــیالان ســــــو دنـــــــړی داولســـــــونو
هـــــــر افغـــــان پـــــه ابـــــادیو کـــــي ســــــهیم را

چـــــي منبـــــر، تـــــوره ، قلــــم ،قـــــران نښـــــان وي
قــــــران مـــــــل پـــــه کلیمـــــــاتو زړه نعـــــــیم را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! سرخم ستا په درکي په هر ان را
په کچکول دعاجزۍ کي مي غفران را

چي مخ تور نسم په لو ورځ دمحشر کي
رڼې سترګي پر دیدار مي دجانان را

چي جواب ((لتسئلن)) لره بشپړ کړم
ذکاوت ، تمیز په غېږ کي دشکران را

کجروي را څخه لیري په میلو کې
مستقیم صراط پر لاره دخوبان را

قرانمل سرمي قربان تر قرآنه کړه
دقران په لاربنوونه روح روان را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! هرځای کي ددین مختوری کوڼ را
چي ګونګی په خوله وي هروخت یې بې بوڼ را

چي بر لاسی په ایمان سمه پربانـدي
دا سي وعظ دخولګی دژبي سوڼ را

تجربیه دژوندانه مي سي ځواکمنه
په تحقیق او ځراکت کي دا سي چوڼ را

چي مي غشی درښتون په نښان درومي
درشتیا لېندی پشاني ملاد نوڼ را

قرانمل په بندګي درته سرخم یم
پاکه مینه ، پاکه مېنه ایمان روڼ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خـــداي دومـــره تـــوان مـــي هـــر وخـــت پـــر اوږو را
چـــي ســـم ســـتړی دمخلـــوق خـــوی دســـرو را

عقايـــد مـــي منـــزه لـــه غيـــرو ســـاته
پرايـــات حـــديث توحيـــد يقـــين دكـــرو را

پـــر مـــذهب مـــي دنعمـــان خوشـــحال زړګـــی کـــړه
فكـــر خـــلاص لـــه تزلـــزل او انديښـــنو را

دخســـيس ابلـــيس هـــر وخـــت ملامتـــی تـــه
ژبغړانـــده خولـــه ګويـــا پـــه ګفتګـــو را

دقـــران نصـــوص مـــي نقـــش پـــر هـــدفو دي
قرانمـــل تـــه دقـــران تـــوان دســـاتو را

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه ! ستا چي وي رضا هماغه ځای را
په قضاکي مي رضا پر فکر و رای را

دمسلم امت پدې حساس پړاو کي
دعلم پورته کېدو ته توان همای را

چي لار یون مي دهدف پر حیف ولاړ نسي
دغماز ورتېدو ته هوی و های را

سرمي جار ستا تر ازل ابد مالکه
خاتمه مي پر ایمان دژوندون پای را

پرشتې دسوال جواب چي سي خوشحاله
اساني وقرانمل ته هغه ځای را

(c) ketabton.com: The Digital Library

دليکوال لنډه پېژندنه:

نوم .:حاجي نوراحمد (قران مل)

دپلارنوم :حاجي عبدالحميد(کاکړ)

اصلي مينه:کندهار ښار څلرمه ناحيه (باميزو کوڅه)

اوسنۍ مېنه:کندهارښار لسمه ناحيه (کارته معلمين)

زده کړې:دمتوسطو ديني ،اداري،تدريسي زده کړو ترڅنګ په ١٣٨٢لمريز کال کي دکندهاردعالي دارالمعليمين داجتماعياتو په څانګه کي له ١۴ټولګۍ څخه فارغ

چاپ سوي اثار:

1. ادبي ډېوه نثري تحقيقي ليکنه
2. زماغوښتني نثري ټوټه يزه ليکنه
3. اياغريبک پېژنی؟ نثري تحقيقي ليکنه
4. ټکۍ نثري تحقيقي ليکنه
5. دغريبک خزانه نثري تحقيقي ليکنه
6. داوښکو بهير آزاد اومقيدوشعرونه
7. خطاب مقيد شعرونه
8. ديادونو ځولۍ آزاد اومقيد شعرونه
9. خطوط واقلام ترتيب ،سمون اوسريزه
10. پښتولنډۍ اوغاړي ترتيب ،سمون اوسريزه
11. ستوري ستوري يادونه ترتيب ،سمون اوسريزه
12. تاند يادونه ترتيب ،سمون اوسريزه
13. زروړانګه مجله پرله پسې شپږ ګڼې
14. دپاړکوډولۍ ترتيب ،سمون اوسريزه
15. لمرين کلئ دجاپان هيواد سفرنامه
16. ريښتونئ استازئ نثري ليکنه
17. مناجتونه همدا ليکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پــــــای

LARAWBAR

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library